# <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

## د خلیج هېوادونو د واکمنانو په "زغم" کې له اسلام او مسلمانانو پرته نورې ټولې برخې او قوانین شاملېږي!

د اماراتو واکمنانو په جبل علي سیمه کې د «زغم» تر سپک نامه لاندې د کفارو د یوه دین لپاره نوی معبد پرانیست. وړاندې له دې یې هم د مسیحیانو او یهودانو لپاره د څو کلیساوو او کنیسو په پرانیستلو د مسلمانانو احساسات راپارولي وو. دوی د «زغم» په نوم وزارت له لارې چې په ۲۰۱۶م کې رامنځ ته شو، غواړي د «زغم» تر نامه لاندې د نا مسلمانانو لپاره د لا ډېرو معابدو جوړولو بازار گرم کړي. دا ځل یې لوی گام واخیست؛ د ۱۶ میلیونو ډالرو په لگښت یې د هندوانو لپاره یو معبد پرانیست! دا په داسې حال کې ده چې افراطي هندوان د هند د نیمې وچې مسلمانان د اماراتو د واکمنانو د سترگو پر وړاندې په بېلا بېلو بڼو شکنجه کوي. جوماتونه پر هندو معابدو بدلوي؛ په کوڅو کې پر مسلمانو ښځو بریدونه او تېري کوي؛ په پوهنتونونو کې یې پر حجاب بندیز لگولی؛ په آسام کې مسلمانان له خپلو کورونو باسي او لسگونه کلونه کېږي چې د کشمیر مسلمانان وژني، شکنجه کوي یې او د پوځ تر مستقیم واک لاندې یې ساتلي. دوی مسلمانان له خپلو مدني حقوقو بې برخې کړي، پر مسلمانو ځوانانو د ترهگرو تورونه لگوي او په دې پلمه یې نیسي او بندي کوي یې. د هندوانو ډلې په کوڅو او بازارونو کې گرځي؛ پر مسلمانانو بریدونه کوي، ځوروي یې او ان وژني یې.

د اماراتو واکمنان په هند کې د مسلمانانو پر وړاندې پر ټولو جنایتونو سترگې پټوي او بیا د هندوانو لپاره د ۱۶ میلیونو ډالرو په لگښت یو لوی معبد جوړوي!

دوی همداراز د اسلامي امت پر غوسې سربېره، د سپېڅلې خاورې او الاقصی مسجد پر وړاندې د یهودي ادارې پر جنایتونو سترگې پټې کړي. د اماراتو واکمنانو هېر کړي چې:

**(إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ)**

**ژباړه:** *«بېشکه چې الله تعالی تاسو د هغو خلکو له ملگرتیا څخه منع کوي چې له تاسو سره د دین په معامله کې جنگېدلي؛ تاسو یې له خپلو کورونو ایستلي یاست او ستاسو په ایستلو کې یې یو د بل ملاتړ کړی دی. له دوی سره چې څوک ملگرتیا وکړي، هغوی ظالمان دي.»* [ممتحنة: ۹]

که د اماراتو واکمنانو غوښتلای چې په هند کې د اسلام او مسلمانانو ملاتړ وکړي، نو دا کار به یې نه و کړی. دوی د هند پر گټو د فشار راوړلو لپاره ډېر انتخابونه لري. لومړی یې په اماراتو کې د ۳,۵ میلیونه هندیانو شتون دی چې هند ته لویه اقتصادي گټه رسوي. دوی همدارا‌ز په اماراتو کې پر الکټرونیکي پوځ سربېره یو لوی رسنیز کمپلکس لري چې نړیوالې او سیمه‌ایزې رسنۍ پکې دي. د دې ټولو تر څنگ د سیمه‌ایزو او نړیوالو اړیکو پر شبکه د اماراتو د نفوذ وړتیا د پام وړ انتخاب دی. د اماراتو واکمنان دا ټول وسایل او وړتیاوې لري، خو له اسلام او مسلمانانو سره خواخوږي نه لري.

دوی د بعث حزب د وژونکو جنایتکارانو له پیل کوونکو څخه دي. پر امنیتي او سیاسي اړخونو سربېره، د شام د خلکو پر وړاندې د دوی په جنایتکارانه اعمالو کې وژل، بې ځایه کول، عزت ته سپکاوی او کیمیاوي وسلې هم شاملې دي. د اماراتو واکمنان خلک د اسلام او مسلمانانو د دښمنانو پر وړاندې زغم ته وربولي؛ خو د اسلام د حاکمیت پر وړاندې جنګېږي او اسلام له حکومت او د خلکو له ژوند څخه لرې کوي.

په داسې حال کې چې د اماراتو واکمنان د کفارو لپاره د ډېرو معبدونو د پرانستلو پر سر سیالي کوي؛ د بحرین واکمنان غواړي چې د ۲۰۲۲م کال، د نومبر له ۳مې تر ۶مې پورې د کاتولیک پاپ کوربه توب وکړي او په پلان کې ده چې کاتولیک پاپ او د کلیسا غړي به په بحرین کې د الازهر له شیخ، احمد الطیب او د ده په مشرۍ "د مسلمانانو مشرانو شورا" له غړو سره وګوري. وړاندې هم د ۲۰۱۹م کال، د فبرورۍ په ۴مه د اماراتو واکمنانو د کاتولیک پاپ او د الازهر د شیخ کوربه‌توب وکړ او دواړو اړخونو د بشري وروروليۍ سند لاسلیک کړ.

داسې ښکاري چې خلیج هېوادونه په عربو جزیره کې د کفارو لپاره د نویو معبدونو د شتون د مشروعیت لپاره هڅې کوي او د الازهر شیخ د همدې لپاره راولي. که د الازهر شیخ دا مسله تایید نه کړي، ښایي هغه ځان په یو نوي مهم واقعیت کې ومومي، په ځانګړې توګه که چېرې د آل سعود کورنۍ واکمنان د "زغم" په نوم کنفرانس کې د هغه کوربه توب وکړي، ترڅو د دوو سپېڅلو مسجدونو په خاوره کې د کفارو لپاره معبدونه جوړ کړي.

**اې مسلمانانو:**

د اسلام سپېڅلي دین د ټولو اړیکو په ګډون له نا مسلمانو سره اړیکې په داسې تفصیلي ډول تنظیم کړې دي چې انسان له ګډوډۍ سره نه مخ کوي، د دولت تر حاکمیت لاندې یې په ټولنه کې د اړیکو چوکاټ جوړ کړی دی. نو ایا مسلمانانو ته پکار ده چې په عربو جزیره کې د کفارو لپاره معبدونه جوړ کړي، چې الله سبحانه و تعالی ټول کفر ته حرام کړي دي؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ»**

**ژباړه:** *«مشرکین له عربو جزیرې څخه وشړئ»*

د هغه عمري تړون په اړه څه فکر کوئ چې وايي مشرکین به په اسلامي خاورو کې نوي معبدونه نه جوړوي؟

الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاء بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ * فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَى أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ فَعَسَى اللّهُ أَن يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ فَيُصْبِحُواْ عَلَى مَا أَسَرُّواْ فِي أَنْفُسِهِمْ نَادِمِينَ)**

**ژباړه:** *«اې مؤمنانو! یهودان او عیسویان خپل ملګري مه نیسئ، دوی په خپلو منځو کې سره ملګري دي. که له تاسو څخه څوک هغوی خپل ملګري ونیسي، نو د همدوی له ډلې ګڼل کېږي. په دې کې شک نشته چې الله تعالی ظالمان له خپلې لارښوونې څخه بې برخې کوي. نه ګورې د چا په زړونو کې چې د نفاق ناروغي ده، هغوی په هماغه کې په منډو ترړو اوړي را اوړي. وايي: «موږ وېرېږو چې په کوم غم اخته*

*نه شو.» خو لیرې نه ده چې الله تعالی تاسو ته غوڅ برى در په برخه کړي؛ یا له خپل لوري څخه کومه بله خبره څرګنده کړي، نو دا خلک به په خپل دغه منافقت چې په زړونو کې یې پټوي، پښېمانه وي.* [مائده: ۵۱-۵۲]

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د ربیع الاول ۲۴مه**

**۲۰۲۲م کال، د اکتوبر ۲۰مه**

**د صدور ګڼه: ۰۱۴/ ۱۴۴۴**